AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولـــی ناروغ ۲۰۲۰/۱۱/۲۰

# زه چې کوچنی وم...

زه چې کـوچـنی ومــه، لینډی مې ویشــتې
څه بـه چـونګښې، څه مـرغـۍ مـې ویشتې

کله بـــه ځـالـــو تــه پــه ونـــو ختــم
لـه سپــو نـیولـې، تــر هـیلۍ مــې ویشــتې

د کــلي چــرګ او هــلک هــیڅ و راتــه
لـه خــپـلي مــوره، تــر انــۍ مــې ویشــتې

د سـپـیـده داغ آذان بـــه پـــاڅـــــــولم
د تـور مــابنـام، تــر تـرږمۍ مې ویشتې

زمـــا د میـنې لمــن پـــراخـــه شـــوله
تـوپـک مې واخســت، پـه مرمۍ ویشتې

لـه ګــاونـډ یانو بــه پــریمانــه راتـــلې
نـور نـو مـلا شــوم، تـوغـنډۍ مـې ویشتې

ولـــی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ